جورج فوستر
ترجمه: رحمت آريا

۲۰۲۵/۰۱/۱۵

# د جورج فوستر يون ليک: له بنګاله تر لندن سفر
(۴ برخه)

**د ژباړونکي يادونه**

لکه څنګه چې د ښاغلو او آغلو لوستونکو پام دئ موږ تر دې ځايه د جورج فوستر د يون يا سفر په پيل کې يو چې له بنګال څخه يې پيل کړی دئ. دی د خپل سفر په ترڅ کې خپل عيني مشاهدات ليکي. ما تر دې ځايه د کتاب د پيل څو پاڼي د بېلګې په توګه راوړې. له دې چې زموږ موخه د هندوستان د تأريخ څېړنه نه ده نو زه له هغو برخو څخه تېرېږم چې منحصراً په بنګال او هند پورې اړه لري او نيغ په نيغه هغو برخو ته ورځم چې په افغانستان پورې اړه لري.

تاسو تر دې ځايه پورې د کتاب د لومړي ټوک ۱۳ پاڼې ولوستلې او ونليس ته د ليکوال ليک د انګليسي متن د لومړي ټولک په ۲۹پاڼې کې پای مومي چې د پي. ډي. ايف د فارمت ۵۶ پاڼه کيږي.

په ۳۰ پاڼې کې ونليس ته د ليکوال دوهم ليک پيل کيږي چې په بنارس کې د ۱۷۸۲ز کال د سپتمبر په ۳۰ نېټه ليکل سوی دئ. دا ليک د بنارس شرحې ته ځانګړی سوی دئ. دا ليک په ۶۰ پاڼې پای مومي چې د پي. ډی. ايف ۸۸ پاڼه کيږي.

په ۶۱ پاڼې کې د پی. ډي. ايف د فارمت ۸۹ پاڼه کې د ليکوال دريم ليک راغلی دئ چې د ۱۷۸۲ز کال د نوامبر په ۳۰ نېټې ليکل سوی دئ. دا ليک هم د بنارس او هم د هندو د ميتالوژۍ شرحه وړاندې کوي او د لومړي ټوک په ۶۶ پاڼې پای مومي چې د پي ډي. ايف ۹۳ پاڼه کيږي.

په ۶۷ پاڼې کې څلورم ليک راغلی دئ چې د «الا آباد» شرح په کې راغلې ده او په ۷۵ پاڼې پای مومي چې د پي. ډي. ايف ۱۰۲ پاڼه کيږي.

په ۷۶ پاڼې کې د لکنهو شرحه راغلې ده چې پينځم ليک دئ او د ۱۷۸۳ د جنورۍ د مياشتې په لومړۍ نېټې ليکل سوی دئ. دا ليک په ۸۴ پاڼې پای مومي چې په ۸۴ پاڼې پای مومي چې د پي ډي. ايف د فارمت ۱۱۱ پاڼه کيږي.

په ۸۵ پاڼې کې شپږم ليک راغلی دئ چې د لکهنو د شرحې دوام دئ او د ۱۷۸۳ز کال د جنورۍ په ۱۶ ليکل سوی دئ او د لومړي ټوک په ۸۸ پاڼې پای مومي چې د پي. ډي. ايف د فارمت ۱۱۵ پاڼه کيږي.

په ۸۹ پاڼې کې اووم ليک راغلی چې د د ۱۷۸۳ز کال د جنورۍ د مياشتې په ۲۶ نېټه ليکل سوی دئ او دا ليک د «فرخ آباد» شرحه وړاندې کوي دا ليک د لومړي ټولک په ۹۴ پاڼې پای مومي چې د پي. ډي. ايف ۱۲۱ پاڼه کيږي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په ۹۵ پاڼې کې اتم لیک راغلی چې د ۱۷۸۳ز کال د فبرورۍ د میاشتې په پینځمې نیټې لیکل سوی دئ. دا لیک د رامپور د ښار شرحه وړاندې کوي او د لومړي ټوک په ۹۹ پاڼې پای مومي چې د پي. ډي. ایف د فارمت ۱۲۶ پاڼه کیږي.

د لومړي ټوک په ۱۰۱ پاڼې کې بل لوی عنوان راځي د «روهیلیه تأریخ» نومېږي. زه به یې له همدې ځایه پیل کړم چې د پي. ډي. ایف د فارمت ۱۲۸ پاڼه کیږي.

## د روهیله [1] تأریخ [2]

داسې ښکاري چې د ۱۷۲۰ز کال په شاو خواوو کې د روهیلیه د قبیلې بشارت خان او داؤود خان د خپلې قبیلې د څو تنو اړمنو او ماجرا پالو کسانو په ملتیا هندوستان ته د سربازۍ د خدمت لپاره راغلي ول. دوی د «سکورلي» [3] په سیمې کې د هندوانو د یوۀ مشر «مدار سها» [4] لاس ته ورغلل. مدار سهار د غلا، شوکو او لوټمارۍ له لارې د لوټمارو یوه ډله جوړه کړې وه. داؤود خان د همدې سیمې د ګاونډ له یوۀ کلي څخه د جټانو [5] د قبیلې یو تنکی ځوان یرغمل کړ او دی یې د خپل زوی په توګه ومانـۀ. دی یې مسلمان کړ او د علي محمود نوم یې ورباندې کښېښود؛ سره له چې داؤود خان له خپلې مېرمنې څخه څو زامن درلودل خو بیا یې هم ددغـۀ هلک پر وړاندې خپله ځانګړې پلرنې مینه وښودله. مدار سها روهیلیانو ته د ژوند – ژواک لپاره یوه ټوټه ځمکه [6] ورکړه او د روهیلیانو شمېر مخ په ډېرېدو سو بشارت خان ته د «ګول ریه» [7] سیمه او یو شمېر کلي ورسـېدل او داؤود خان ته «برنیه او بیولي[8]» [9] ورسېدله.

په هغه مهال کې چې روهیلیانو لا په محدود وضعیت کې ژوند کاوۀ د شاه علم خان په نوم یوۀ افغان [10] ملا [11] په هندوستان کې د خپلو هېوادوالو لیدلو ته راغی. ویل کېږي چې نوموړي له داؤود خان سره ځانګړې اړیکې لرل یا دا چې داؤود خان د پلار په توګه منلی وو او یا دا چې د داؤود د ژوند د لوییدلو په پړاوونو کې یې ورسره مرسته کړې وه. دا اړیکې که په هر ډول وې، خو دا تصدیق سوې چې په «بیورلي» کې د نوموړي ملا ښه مېلمه پالنه وسوه. کله

---

[1] - زما د معلوماتو پر بنسټ دغه نوم د (ره Rah) له کلمې څخه اخیستل سوی دئ چې په افغاني «پښتو – ژ» ژبې کې د غونډۍ یا د غرۀ په معنی ده. همدا شان دا یوه سیمه ده چې د پېښور او کابل تر منځ واقع او د روهیلیانو بومي ټاټوبی دئ. لیکوال

[2] -HISTORY OF THE ROHILLAS

[3] -Scrouly - د روهلکنډ په شمال لویدیځ کې یو کوچنی ښارګوټی دئ. لیکوال

[4] - Madar Saha

[5] - جټان یوه قومي ډله ده چې د شمېر له اړخه بې شمېره دي او د هندوستان د شمال په برخو کې میشته ډله ده چې د هندوانو «د طبقاتي سیستم – ژ» په څلورمه ډله یعنې سوډرو کې راځي.لیکوال

[6] - د روهیلیانو هغه افسران چې له قومي مشرانو څخه را وروسته رتبو کې ول دغه یې نومونه دي : قایم خان، شادي خان، پرمول خان، سلطان خان دونګیاه - لیکوال

[7] - Goolareah

[8] - Burneah and Beouly

[9] - کلي د «سولاسي Sullausee » په ولسوالۍ کې واقع دي چې د روهلکند یوه برخه ده چې د بارلي Bareily د شمال لویدیځ په ۴۰ محاسبه سوي مایلي کې واقع دئ. وګورئ د رنل نقشه- لیکوال

[10] -WHILST the Rohillas were yet in this limited state, Shah Alum Khan, an Afghan Mollah, visited his countrymen in India {Page 102, Volume 1, PDF Format both volumes combined page 129}

[11] - د ملا نوم هغو کسانو ته اطلاق کېږي چې په دیني لارښوونو او محمدي شریعت کې مهارت ولري.- لیکوال


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

چې شاه علم خان بېرته افغانستان [12] ته ستنېدهٔ داؤود ورته د لارې د لګښت لپاره روپۍ ورکړې. شاه علم خان وروسته ددوهم ځل لپاره د «کوتير» [13] ليدلو ته راغی او بيا يې د داؤود خان له سخاوت څخه ګټه واخيستله. کله چې شاه علم خان بېرته ستنېدهٔ، خپل کورته د ستنېدلو په لاره کې ووژل سو او شتمني يې لوټ سوه. ويل کېږي چې د ملا دغه وژنه ځکه د داؤود خان له پلوه ترتيب اثر سوې وه چې نوموړي ملا د داؤود خان پر ضد يو شمېر کبرجنې او متکبرې خبرې کړې وې. زما ددې خبرې موخه اساساً د حافظ رحمت خان د پلار په هکله ده چې وروسته هغه هم له بدمرغۍ سره مخامخ سو.

روهيليان له مدار سها Madar Saha سره له اختلافاتو وروسته د هغه له قلمرو څخه ووتل او د «بريلي» [14] له مشر «چاند خان» [15] سره متحد سول. دوی ټول په ګډه د مراد آباد د والي عظمت خان په خدمت کې سول. خو له والي سره ددوی اړيکي لنډ مهالي وې ځکه دوی ډېر ژر د شمال د غرونو پر لور وخوځېدل او د « کوميون» [16] د راجه د قلمرو پر ضد يې خپل يرغلونه پيل کړل. مخکې له دې چې چاند خان له روهيليانو سره يو ځای سي، له روهيليانو سره په دغسې عملياتو کې له ګډون څخه يې ډډه کړې وه، سره له دې چې روهيليانو په لومړيو کې څه ناڅه برياليتوبونه درلودل خو په عمومي ډول سره يې ماتې خوړلې وه. سره له دې چې روهيليان د هېواد ژورې ستراتيژيکې برخې باندې ننوتلي ول خو ګوري چې له هر لوري د غرنيو [17] خلکو په محاصره کې راګير سوي دي او دوی د هغوی د تدارکاتو لارې قطع کړې وې، روهيليان مجبور سول چې د ځان د آزادۍ لپاره له سپکاوي ډک شرايط ومني. داؤود خان او علي محمود راجا ته وسپارل سول چې داؤود اعدام سو او علي محمود چې اعدام ته برابر وو په سختۍ په تېښتې بريالی سو.

روهيليان وايي چې داؤود خان د کوميون راجا ته نه وو تسليم سوی بلکه د غرنيو د يوې ډلې په غلچکي يا غافلګيرانه بريد کې ووژل سو. له دې پېښې وروسته د روهيليانو ډلې (بيولي او برنيا) [18] ته چې کوميون ته له تګ مخکې يې خپلې کورنۍ په کې ځای پر ځای کړې وې شا تګ وکړ. ډېره موده لا نه وه تېره چې روهيليانو د مدار سها د قلمرو سيمې تر خپلې ولکې لاندې راوستلې او لومړی حاکم يې د يوه يرغل په لړ کې ووژل سو. د داؤود خان له مړينې وروسته علي محمود ددې ډلې د مشر په مقام منصوب سو. [19] سره له دې چې ځوان وو خو څرګنده يې کړه چې ددې مقام وړتيا په کې سته. نوموړی زړور او د خپل قلمرو د پراخولو او د خپل قدرت د پياوړي کولو لپاره له مساعدو فرصتونو څخه

---

[12] -In whatever relation the Mollah stood to Daoud Khan, it is allowed that he was hospitably treated at Beouly; and on returning to Afghanistan, was furnished with a sum of money for desraying the expences of his journey. {Page 102, Volume 1, PDF Format both volumes combined page 129}

[13] Kuthair - دا د روهيلکند اصلي نوم دي چې د روهيليه وو له فتحې مخکې ئې دا نوم وو او د هېواد د عمومي ثبت په دفاترو کې منل سوی دئ. ليکوال

[14] - Bareily

[15] - Chand Khan

[16] - Rajah of Cummaioun

[17] - دا يوه پراخه غرنۍ سيمه ده چې د هندو مشر له متصرفاتو څخه ده او د روهليکنډ شمال – ختيځه برخه جوړوي.- ليکوال

[18] - Beouly and Burneah

[19] – د داؤود خان زوی محمود خان يا دا ده چې په علي محمود کې يې د پلار مينه ليدله او په کې ډوب سوی وو او يا دا چې روهيليه افسرانو د پلار له ځای ناستې کېدلو څخه محروم ګرځولی وو، که هر څه ول وي دې خو محمود خان فرخ آباد ته په شا سو او هلته د يوې «بنګلش Bunglish» کورنۍ له پلوه ووزل او وپالل سو. هغه په لاس ليکل سوی ليک چې ما ليدلی دئ وايي چې محمود خان د پلار د مړينې پر مهال کوچنی ماشوم وو او بيا هم وايي چې تر څو کلونو پورې د علي محمود په کور کې وو. - ليکوال


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

په استفادې کې مدبر وو. په «منونه» [20] کې میشت یو خصي یا د حرمسرای خواجه د (اومره وو) [21] [ د دربار د غړو – ژ] د چارو مسؤول وو، دغـهٔ سړي په کوټیر کې ځمکي درلودلي چې د خپلي خوابدئ پر بنسټ یې علي محمود ولمساوۀ چې د (اوله) [22] د سیمي په مشر دې برید وکړي. روهیلیانو په چټکۍ سره وکولی سول دا سیمي ونیسي او په پای کې یې له خپل قلمرو سره ونښلولي. ددې اخ و ډب په لړ کې د خواجه سرا پر وړاندې یې بله توجیه ومونډله او د یوې پرېکنده او برخه لیک جوړوونکي جګړې [23] په لړ کې یې ورباندې غلبه ومونډله. دغې بریا نه یوازې د سیمي د اشرافو ځمکي ورته په لاس ورکړې بلکه د پام وړ غنایم یې هم تر لاسه کړل. علي محمود د وزیر قمر الدین په مرستې نه یوازې په دربار کې خپل موقعیت او ځای ځایګی بیرته ترلاسه کړ بلکه د مستمري له ځمکو څخه د عایداتو د راټولولو د څار یا نظارت دنده یې ترلاسه کړه او ویل کېږي چې په ټولي وفادارئ یې وسپارلې. [24]

دغه دوره په روهیلکنډ کې د روهیلیانو د پام وړ د قدرت د استقرار څرګندویه ده؛ د روهیلکنډ نوم د کوټیر د سیمو او ګنګ د سیند ختیځو څنډو لپاره وکارول سو. وروسته له دې چې عظمت الله خان د مراد آباد له حکومت څخه لېرې کړل سو د «هونود» [25] په نوم یوه برجسته هندو افسر ته مأموریت ورکړل سو چې د روهیلیانو د له منځه وړلو لپاره دې هغې سیمي ته ورسي. داسې ښکاري چې د محمد شاه په دربار کې پیاوړي درباري «عمدة الملک» [26] ددغه اقدام مشوره ورکړې وه؛ په حقیقت کې دا د هماغه خصي یا خواجه سرا د وژل کیدلو په غچ کې یو اقدام وو چې د یوۀ لوی جاګیر د څارلو او نظم دنده یې پر غاړه وه. هغه جګړه چې خصي یا خواجه سرا په کې وژل سوی وو په ۱۷۲۷ز کال کې پېښه سوې وه. دا اقدام چې په داسې څرګندې او بربنډې سرغړوني تقریباً د دربار په شاو خوا کې ترسره سو د مغولو د امپراتورئ د ځوړتیا او سقوط څرګندونه کوي او په څرګنده په ډاګه کوي چې وسله وال ځواک نور هغه اقتدار نه درلود چې اکبر او اورنګ زیب یې نه ماتیدونکي ګرځولي ول. د روهیلیانو د تأریخ په یو شمېر پاڼو کې ویل سوي چې عظمت الله خان [27] په جبر او زور د علي محمود له لوري له خپل حکومت څخه خلع او معزول سو. دغه افسر د امیر خان په نوم هم پېژندل کېدۀ چې د (مَنَونه او اوله) [28] سیمي یې تر ولکې لاندې وې. د علي محمود [29] تر مشرئ لاندې ول چې د هونود ځواکونه ورسره مخامخ سول او هونود بشپړه ماته وخوړله. هونود او زوی یې دواړه په دې جګړې کې ووژل سول؛ مراد آباد او ورسره د بریلي سیمي د علي محمود لاس ته پریوتلې. د همدې مودې په اوږدو

---

20 - Munounah : د روهلیکند یو ښارګوټی دئ.لیکوال

21 -omrahs : د هند د مسلمانو سلاطینو په دربار کې لوړ پوړي مقام ته به «اومره» ویل کېدل. - ژ

22 - Owlah

23 - ددغه خصي سوې یا خواجه سرا پر وړاندې جګړه په ۱۷۲۷ز کال کې پېښه سوه چې خواجه سرا يې په لړ کې ووژل سو.لیکوال

24 - د یوۀ څرګند او برالا یاغی دا اقدام چې د دربار د غوړونو په بیخ کې تر سره کیږي د مغولو د امپراتورئ د سقوط د مهمو شیبو څرګندونه کوي. دا په څرګنده په ډاګه کوي چې د پوځي ځواکونو هغه قدرت او جلال نور له منځه تللی وو چې اکبر او اورنګزیب یې پیاوړي کړي ول. لیکوال

25 - Hunund

26 -Omdut Ul – Mulck دغه افسر د امیر خان په نوم هم پېژندل سوی دئ.لیکوال

27 - د روهیلیه د تأریخ په یو شمېر پاڼو کې دا ثبت سوي چې عظمت الله له خپل حکومت څخه د علي محمود له لوري په جبر او زور معزول سوی دئ. لیکوال

28 - Munounah and Owlah

29 - دا پېښه په ۱۷۴۰ز کال کې رامنځته سوه چې پر هند باندې د نادرشاه له برید یو کال وروسته رامنځته سوه. لیکوال



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کې ول چې روهیلیه «عظیم خان دونغي» [30] چې د «پلي بیټ» [31] زمیندار ته یې خدمت کړی وو له علي محمود سره متحد سو. راپورونه وایي چې همدا عظیم خان وو چې علي محمود یې ولمساوۀ د خپل متوفی ارباب په ځمکو او جایداد دې برید وکړي. روهیلیانو چې د خپلې سیمې د پراخولو او لوټ لپاره له هر فرصت څخه استفاده کوله په (هندو) [32] برید وکړ او دې ته یې اړ کړ چې له خپلې مینې څخه ووځي. د هونود له مړینې وروسته - سره له دې چې دقیقه شرحه او جزییات یې نه دي ورکړل سوي – او مشخصه نېټه یې نه ده یاده سوې - دا خبره ثبت سوې چې د وزیر قمر الدین زوی «میرمنو» [33] له یوه لښکر سره روهیلکنډ ته واستول سو؛ ددې لښکر- لیږد موخه دا وه چې له علي محمود څخه د روهیلکنډ مالیاتي عواید راټول او هغه توپخانه ورڅخه واخلي چې د هونود له سرتېرو څخه یې تر لاسه کړې وه. علي محمود «داران غر» [34] ته نېږدې د ګنګ د سیند د ګودر په برخې کې له میر منو سره مخامخ او همدلته یو توافق تر لاسه سو؛ همدا شان راپور ورکړل سوی چې د روهیلیه یوه لور د میرمنو ورور ته وادۀ سوه. هندوستان ته د حافظ رحمت خان [35] د تللو داستان دومره وایي چې نوموړی د علي محمود د حکومت پر مهال له خپلو هېوادوالو سره یو ځای سو. علي محمود هم په چټکۍ حافظ رحمت خان ته د مشر مقام په دې دلیل ورکړ چې که د علم خان له قتل وروسته یې کومه کرکه او کینه پاتې وي هغه دې له منځه لاړه سي. (دهوندي خان) [36] د علم خان وراره هم په همدې مودې روهیلکنډ ته ورسید او د علي محمود تر لطف او پېروزینې لاندې راغی. علي محمود چې ښایي تر ډېره د پخوانیو سپکو سپورو د غچ اخیستنې په پرتلې خپلو سوبو ته ډېر لېوال وو په (کومیون) [37] برید وکړ او په بریالیتوب یې ورباندې برلاسی تر لاسه او د سیمې ریيس یې اړ کړ چې سرینګر [38] ته پناه یوسي. نوموړي د خپل لښکر- لېږد په دې لړ کې د پام وړ خزانه راټوله کړه او د کلني خراج په ایښودلو یې خپل ثروت وروستي حد ته ورساوۀ. ددې تر څنګ روهیلیه ځواکونه د (کومیون) د متعلقاتو د (کاشي پور) او (رودر پور) [39] په کلاګانو کې ځای پر ځای سول او د ددغو کلاګانو څښتونولي یې واخیستله؛ ویل سوي دۀ دا کار د خپل پلار د قتل په غچ کې وکړ.

علي محمود چې عمدتاً په (اوله) [40] کې یې ژوند کاوۀ د خپل ټول قلمرو په اوږدو کې یو ټینګ حکومتي سیستم رامنځته کړ. سره له دې چې دا سیستم سخت او شدید وو خو بیا یې د ټیټې طبقې خلکو ته خوندیتوب او تحفظ ورپه برخه کړ. سردار خان چې د بېلابېلو عملیاتو او پېښو په لړ کې ځان زړور سرتېری ثابت کړی وو د لښکر د بولندوی په توګه

---

[30] - Azim Khan Dungheah

[31] -the zemindar of Peleabeat : پیلي بیت : دا د روهیلکنډ په ختیځ کې یو ښارګوټي دئ چې د ځنګلي غونډیولمنو ته نږدې واقع دئ وګورئ د Vide Rennel نقشه. لیکوال

[32] - Hindoo

[33] - Meer Munnoo

[34] -Daranaghur د ګنګا د سیند پر غاړه یو ښارګوټی دئ چې د روهلیکند په شمال لویدیځ کې موقعیت لري.وګورئ د رنیل نقشه - لیکوال

[35] - همدا سند وایي چې حافظ رحمت خان هندوستان ته د سوداګر په بڼه راغلی وو. لیکوال

[36] - Dhoondy Khan

[37] - Cummaioun

[38] - د روهلیکنډ په شمال کې د هندوانو یوه سیمه ده. لیکوال

[39] - Cashipour and Rooderpour

[40] - Owlah


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

مقرر سو؛ او د ژوند ژواک لپاره يوه ټوټه ځمکه ورته ورکړل سوه. په همدې توګه فتاح خان [41] ته هم موقوفه ورپه برخه سوه او د عمومي خزانه دار او د داخلي ګودامونو د ساتونکي په توګه مقرر سو. (پلي بيت او باريلي) حافظ رحمت خان ته ورکړل سول؛ او مراد آباد دهونديې خان ورکړ سو. داسې ښکاري چې علي محمود په دې دوره کې د امپراتورئ عالي اقتدار ته چندان ارزښت نه ورکاوۀ، ددې خبرې ګواه د هغو ارزښتناکو متاعو بربنډ توقيف وو چې د بنګال ګورنر د پادشاه د ضرورياتو لپاره د روهيلکنډ له لارې دربار ته لېږل. همدا شان علي د (اوده) [42] د صوبه دار صفدر جنګ له فرمان څخه په سرغړوني د هغه د پام وړ چارتراش لرګي لوټ کړل چې د روهيلکنډ په شمالي سيمو کې يې ځانته زيرمه کړي ول. همدا شان صفدر جنګ له ډيرو وختونو را په ديخوا د کوټير د سوبمنو پر ضد دښمني او کرکه په زړه کې ساتلې وه او له دې چې پر سلطان محمد شاه [43] يې نفوذ درلود نو نومورى سلطان يې وهڅاوۀ چې په علي محمود بريد وکړي. په عين حال کې روهيليانو ته د وزير قمر الدين له پلوه مخفي مرسته رسېدله؛ د اودۀ د صفدر جنګ پر ضد يې پټه او ژوره دښمني درلودله او د هغه وخت د درباريانو د دود دستور پر بنسټ يې له هرې ممکنې لارې او اړيکې، خپل اړخ پياوړى کاوۀ.

**نور بيا**

**پادشاه د خپل پياوړي او لوی ځواک...**

## قدرمنو لوستونکو! د ښاعلي رحمت آريا د آرشيف: لينک

[41] - فتاح خان په اصل کې يو هندو وو چې علي محمود په زوی ولې منلی وو. د نارينه وو په زوی ولې منل ان د مسلمانانو په هغو کورنيو کې دود وو چې ډېر زامن يې درلودل. ليکوال

[42] - Oude

[43] - صفدر جنګ، محمد شاه ولمساوۀ چې دا لښکر - لېږد دې تر لاس لاندې ونيسي او شرط يې ورته کښېښود چې د ټول لښکر د هر مارش په واټن به يو لک روپۍ او ددمې نيولو د هرې ورځې لپاره نيم لک روپۍ تر هغو ورکړي چې لښکر روهليکنډ ته ورسېږي. ليکوال


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ